سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۶ / ۱۰ / ۰۲

# د هند او اسلام اباد شخړه او پښتانه

«د هند دفاع وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي، چې پرون ماښام یې له پاکستان سره څېرمه په کشمیر کې د کنټرول پر کرښه د ترهګرو پر یوې ډلې برید کړی، چې غوښتل یې په کشمیر کې پراخ عملیات وکړي. اعلامیه وايي، چې ترهګر سخت ځپل شوي او د دوی عملیاتي ځواک له منځه تللی دی. روهي»

په دې وروستیو کې کله چې ترهګرو د پاکستاني پوځیانو په ملاتړ د هند پر یوې پوځي اډې برید وکړ او ۱۸ تنه هندي پوځیان یې ووژل، د هند او اسلام اباد ترمنځ تاوتریخوالی بېساري کچې ته لوړ شو. د حیرانتیا وړ دا ده له دې پېښې یوه ورځ مخکې او د پېښې په تړاو د هند له غبرګون څخه وروسته هم، د پاکستان د دفاع وزیر خواجه اصف، هندوستان په اتومي برید ګواښلی دی.

دا چې له پېښې یوه ورځ مخکې اسلامي اباد په اتومي ګوزار هند ګواښوي، څرګندوي چې داسې پېښه د اسلام اباد لخوا په لوېلاس رامنځته شوې او په دې توګه د نوي تاوتریخوالي پېره ټوله د اسلام اباد پر غاړه لوېږي.

هند ته د کشمیر شخړه او پښتنو ته د ډیورنډکرښه په سهیلي اسیا کې هغه دوه کرکېچني لانجې دي چې سیمه کې د دایمي کرکېچ په موخه، د انګریز په لاس جوړې او پنجاب ته په میراث پاتې شوي دي!

هند له پاکستان سره د کشمیر پر سر دایمي شخړه لري او تر اوسه د کشمیر په جبهه یو له بل سره درې ځلي جنګېدلي دي. لومړۍ جګړه یې په ۱۹۴۸ کال ، دوهمه یې په ۱۹۶۵ کال او دریمه هغه یې په ۱۹۷۱ کال کې وشوه چې په دې جګړه کې بنګله دیش د پاکستان له یو یونټ څخه جلا او د یوه خپلواک هېواد پتوګه د نړۍ پر نقشه راڅرګند شو. د هند او پاکستان په دریمه جګړه کې تش په نوم ختیځ پاکستان ړنګ شو او پر کنډوالو یې بنګله دیش اباد شو. د بنګله دیش په رامنځته کېدو سره د واحد پاکستان«پاکستان یو یونټ» انګریزي نظریه هم د هند په سمندر لاهو شوه!

بلخوا د بنګله دیش خپلواکي، د لویدیځ پاکستان نورو ولسونو لکه پښتنو، بلوڅو او سندیانو ته دا الهام وبخښه، چې دوی هم کولای شي د بنګالیانو پشان، ځانونه د پنجاب له مریتوبه خپلواک کړي.

د کشمیر پر سر د شخړې د داسې شالید ترڅنګ، د دې لیکنې غټه موخه دا ده چې د موضوع په یوه بل اړخ چې د هند او اسلام اباد ترمنځ په شخړو کې د ځینو افغانانو یا پښتنو دریځ څنګه وو او نن باید څنګه وي، وغړیږو.

هند سره په دریواړه جنګونو کې نه یوازې دا چې افغانانو له پنجاب څخه تر اباسین پورې د خپلې خاورې د غوښتنې دعوه نه ده وړاندې کړې بلکې د هند په وړاندې یې د پنجاب په ژغورنګ کې مرسته کړې ده.

د پاکستان د کورنیو چارو پخواني وزیر نصیر الله بابر په کال ۲۰۰۲ کې د وطن نومي مجلې سره په یوه مرکه کې وايي،**«د لمړی ځل لپاره په کال ۱۹۴۸ کی کشمیر ته جنګ ته ولاړم، له ما سره د وزیرو او مسعود و لښکری وی. حقیقت دا دی چی د کشمیر کومه علاقه چی اوس له پاکستان سره ده، دا همدی قبایلو او افغانانو فتح کړی. هغه وخت له پاکستان سره پوځ نه و. نو پاکستان د قبایلو او د افغانستان د خلکو (خدران، وزیر، سلیمان خیل، مسعود او ...) د مرستو منتبار دی.»**

دلته د پاکستان د کورنیو چارو د یوه مهم وزیر پتوګه د بابر په پورته خبرو کې ډېر پاخه حقایق پراته دي. دغې حقیقت سره سره چې بابر وایی، د پاکستان برخه کشمیر افغانانو فتحه کړی، نوموړی په دې هم اعتراف کوي چې وزیر، مسعود او نور قومونه د افغانستان خلک دی او بویه پاکستان د دوی د مرستو منتبار دی. دلته د ډیورنډکرښې بره غاړه قومونه لکه ځدراڼ، سلیمان خېل او کوزه غاړه قومونه لکه وزیر، مسعود او نور په یوه شان د افغانستان اتباع ګڼل کیږی او تر اباسین پورې د افغانانو د واحد افغانستان اندیښنه او غوښتنه د بابر په اعتراف کې ښه څرګندیږي.

د کشمیر له کټلو سرببره، په نورو برخو کې هم افغانانو اسلام اباد ته د پام وړخدمتونه ترسره کړی.

کله چې پر پاکستان کومه بلا نازل شوې، د پاکستان له پنجابیانو مخکې افغانانو د بلا په خوله کې ځان ورکړی، پنجاب یې بچ کړی او خپل ځان یې په بلا ژوبل کړی دی. نن چې بیا د کشمیر پر سر د دواړو هېوادو ترمنځ اړیکې د یوې بشپړې جګړې تر بریده رسېدلې، د پاکستان د تحریک انصاف ګوند مشرعمران خان چې د رایو غټه برخه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

يي په پښتونخوا ايالت د پښتنو په وټونو کې پرته ده، د پنجاب او نوازشريف پرځای هند ته د غچ ګوته خوځوي او غواړي شخړه د تودې جګړې کچې ته لوړه کړي. په بشپړ ډاډ ويل کېدای شي، که جګړه پيلېږي دلته بيا به پښتانه له پنجابيانو مخکې هند سره د پنجاب د ګټو لپاره جنګيږي.
همدارنګه د ډيورنډ کرښې پر بره غاړه هم افغانان، پنجاب سره په دوستۍ او د دوستۍ په خوړلنې کې د کرښې د کوزې غاړې پښتنو څخه وروسته نه دي او د افغانستان په وړاندې د پنجاب له هراړخيزې دښمنۍ سره سره بيا هم پنجاب نازول شوی او له هرې بلا ساتل شوی او دا لړۍ له بده مرغه لا دوام لري. دا چې پنجاب وايی« جهاد افغانستان، دفاع پاکستان» بېځايه او پوچه ادعا نه ده. که افغانانو د شلمې پېړۍ په وروستيو کې له پنجابه دفاع نه وای کړې، نن به پنجاب د سيمې پر نقشه، نه وو شتون!
پخواني ولسمر حامد کرزي هم د زړو اړيکو پر بنسټ او د اسلامي ورورګلويزه تبليغاتو(نه د ملي ګټو پر بنسټ) تر اغيز لاندې ويلې وو، که د امريکا او پاکستان جګړه شي، افغانستان به د ده په وينا د امريکا پر وړاندې د پاکستان د ملاتړ په سنګر کې ودريږي.
په ۱۹۷۱ کال له پاکستانه د بنګله ديش د خپلواکۍ د جګړې په مهال، سيد قاسم ريښتيا چې هغه مهال د اعليحضرت محمد ظاهرشا(د ملت بابا) د کابيني غړی وو پخپل کتاب«خاطرات سياسی سيدقاسم ريشتيا» کې ليکي:
«هنوز يک هفته از بازګشت ما از شوروی نګذشته بود که جنګ عظيمی بين پاکستان وهند اغاز ګرديد که دنيا را تکان داد. اما **برای** افغانستان ازهمه بيشتر **تشويش انګيز** بود زيرا از يک طرف **عناصر راديکال و هوا خوا پشتونستان اين پيشامد را به حيث يک شانس تاريخی جهت عملی کردن پلان تاسيس افغانستان بزرګ تلقی ميکردند** و ازطرف ديګر عقل سليم و مقتضيات سياست بين المللی و ازهم ګذشته **انګيزه های اسلامی و افغانی حکم می کرد** که افغانستان از چنين موقع درګيری واختناق پاکستان برای مقاصد سياسی استفاده نکرده وبه اصطلاح از **پشت سر به حريف خنجر حواله** نکند. صفحه ۳۴۳» هغه وړاندې ځي او زياتوي «از همه ګذشته نبايد فراموش کرد که پاکستان يک کشور مسلمان وحريف ان هندوستان است و افغانستان با اين عمل خود نه تنها عنعنات ملي و باستاني خود را زير پا ميګذارد ، عنعناتی که هيچګاه حمله از پشت سررا بر حريف مجاز نميداند، بلکه برعلاوه با درګيری يک کشور مسلمان با يک کشور غير مسلمان در حقيقت به کشور غير مسلمان اعانت مينمايد که چنين عمل بی سابقه هيچګاه از طرف کشورها وملت های اسلامی بخشيده نخواهد شد، در صورتيکه اين اقدام موجب غلبه کشور غير اسلامی ګردد.
اين لکه خدای نخواسته هميشه به دامن کشور وزمامداران امروزه ان باقی خواهد ماند. روی اين حقايق می خواهم توجه رفقا را به اين نکته جلب نمايم که در اتخاذ تصميم دراين مرحله تاريخی از نهايت احتياط و واقع بينی کار ګرفته زير تاثير احساساتی که همه در ان شريک ميباشيم، قرار نګيرند. بالمقابل پيشنهاد من اينست که با استفاده از اين فرصت به جای تهديد، از حسن نيت وهمدردی خود به حکومت پاکستان اطمينان داده و ضمناً تفاهم ان هارا در قضيه پشتونستان وحل مسالمت اميز اين يګانه اختلاف بين دو کشور مسلمان به مقصد نزديکی و همکاری همه جانبه اينده تقاضا نمايم وهر وعده که دراين فرصت در زمينه از طرف انها ابراز شود مارا يک قدم بسوی مقصد نزديکتر خواهد ساخت ويقين دارم که ملت پاکستان هم ازين ژست بزرګ منشانه ما در اينده تقدير خواهد نمود. صفحه ۳۴۳ و۳۴۴»
د نوموړی ليکوال په پورته پراګراف کې څو خبرې د زياتې پاملرنې وړ دي: لومړی دا چې د پښتونستان په اړه راديکال او هواخوا عناصر له دغه تاريخي چانسه ګټه وا نخلي او خپله داغوښتنه چې لوی افغانستان دې جوړ شي، پلی نه کړي. بله دا پاکستان چې د جګړې په سختو شرايطو کې ښکېل دی د افغانستان لخوا د پورته هدف د لاسته راوړلو لپاره، تر ګواښ لاندې را نه شي. بلخوا دلته چې نوموړی د **«اما برای افغانستان»** نوم اخلي په حقيقت کې نوموړی خپله او د خپلې ډلې خبره کوي او خپله غوښتنه پلي کول غواړي، که نه د ده په اصطلاح هغه راديکال کسان هم چې لوی افغانستان غواړي، افغانان دي!
په هغه شرايطو کې د ډيورنډ د تپلي کرښې د ماتولو او د لوی افغانستان د بيا احيا د مخنيوي لپاره د پنجاب په ګټه افغان دولت کې پنځم ستون، د داسې کسانو او دغو طرحو په بڼه کار کاوه. داسې کسانو افغان دولت ته چې دې ملي غوښتنه کې خپله هم لټ او سست وو او څرګند دريځ يي نه درلود، سلا او مشوره ورکوله. دوی دولت ډاروه که وخوځيږي او حرکت وکړي، د ګټې پرځای به ګنې لويه تباهي رامنځته شي او د خپلو ځانګړو سياسي ملحوظاتو له مخې چې له چا پټ نه دي، په داسې مشورو يي د دې ملي داعيي د پليتوب مخه نيوله. که نه مناسب شرايط چې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داسي کسان يي هر وخت طرحه کوي، څه ته وايي؟ د خاورې او تاريخي دښمن په وهلو کې مخ او څټ څه ته وايي؟
ويل کيږي هغه مهال اعليحضرت هم د پنجاب واکمنو ته ليک استولى وو او په هغه کې يي داډ څرګند کړى وو چي افغانستان به د پنجاب په وړاندې له هند څخه ملاتړ ونه کړي.
ډېرو پښتنو مشرانو پنجاب سره په اړيکو کې د ملي ګټو پرځاى اسلامي ورورګلوي، د ګاونډيتوب خيال او ځيني نور دوديز اندونه پاللي چې هغه پخپل وار جلا ځاى لري. د هېوادونو ترمنځ اړيکي د ملي ګټو پر بنسټ رغيږي او دا ګټې بايد د نورو چارو قرباني نه شي. پنجاب هيڅکله افغانستان ته د اسلامي وروری او ښه ګاونډي په سترګه نه دي کتلى او تل يي د خپلو مليتاريستي او ترهګريزو ګټو پر بنسټ د مسلمان او ګاونډي افغانستان ملي ګټې ترپښو لاندې کړي او تازه خو د افغانستان په وړاندې نيابتي او نا اعلان شوې ترهګريزه جګړه پر مخ وړي.
نن سبا رستم شا مومند، په کابل کې د پنجاب پخواني سفير د نورو هغو پنجابي پښتنو لکه اختر عبدالرحمان، اسد درانی، جنرال حميدګل، نصيرالله باير، عمران خان او ډېرو نورو پشان د ډيورنډکرښې پر بره غاړه د پنجاب د ګټو لپاره ډګر ته راوتلی او په زهرجنو تبليغاتو يي پيل کړی. نوموړی پخپله وروستی تبصره کې وايی،«پاکستان غواړي د حکمتيار په مرسته د هند مخه ونيسي»
دلته رستم شا چې ځان په قوم مومند پښتون راپېژني افغانستان سره د خواخوږی تر پردې لاندې غواړي د افغانانو، افغان دولت او حکمتيار ترمنځ واټن رامنځته کړي او پرينږدي چې افغانان پرکابل راټول شي. داسې پښتانه چې خپله قبله يي اسلام اباد او پنجاب ټاکلی په خورا ځيرکی د کابل په وړاندې غږيږي او د پښتنو ترمنځ د بېلتون اور پاشي.
نن چې د ملتونو د هيښتيا او ويښتيا وخت دی، پښتانه بايد د پنجاب او نورو هېوادو بريښې ځېرې وپېژني او له خپله منځه يي وشړي.
که دا ځل د هند او اسلام اباد ترمنځ جګړه نښلي، پښتانه بايد د خپلو ملي ګټو په پوهه د اسلام اباد او پنجاب پرځاى د کابل په پلازمېنه راټول شي او تر اباسينه پورې خپله خاوره د پنجاب له واکمنۍ خپلواکه کړي او د لوی افغانستان ځمکنۍ پراختيا بشپړه کړي.
د همداسي ورځې په هيله

پاى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ